درنو والدینو،

زده کړه او تعلیم هغه مهم شی دی چه ستاسی ماشوم په المان کی دیوه ښه ژوند لپاره ورته ضرورت لری . ددی لیک سره مونږ غواړوتاسی ته د دی لپاره د راینلند ـ فالز Rheinland-Pfalz په ایالت کی دتعلیم د امکاناتو په اړه مهم معلومات ولیږو.

په راینلند ـ فالز کی تعلیم واردمخه په وړکتون کی پیل کیږی – یوه بله جمله چه په المان کی وړکتون ته اکثراً ویل کیږی، هغه "د کوچنیانو ورځنی روزنتون " دی . ستاسی ماشوم کولای شی چه دکوچنیانو ورځنی روزنتون کی نورو کوچنیانو سره لوبی وکړی او نوی دوستان پیداکړی . اوترټولو نه مهمه : هغه هلته دالمانی ژبه زده کړه کوی . کوچنیان بهرنی ژبه مخصوصاً د ګډو لوبو په بهیرکی ډیر ژر زده کوی . ددی لپاره دا یو لوی چانس دی ، که چیری ستاسی ماشوم هرڅه ژر یو دکوچنیانو ورځنی روزنتون ته ولاړ شی . هرماشوم په راینلاند – فالز کی داحق لری چه وکولای شی دکوچنیانو ورځنی روزنتون ته ولاړ شی ، کله چه دیوه کال عمر ته ورسیږی . دا روښانه کوی : که چیری تاسی دا وغواړی ، ستاسی ماشوم په هرصورت کی یوځای دکوچنیانو ورځنی روزنتون کی ترلاسه کړی – هرکله چه دوه کلن شو نوداحتی مجانی دی .

تاسی د کوچنیانو ورځنی روزنتون روزونکو سره دهرڅه په اړه ډیر دقیق خبری کوی . برعلاوه تاسی کولای شی خپل ماشوم په لمړنیو اونیو کی هلته بدرقه کړی ، چه وکتل شی دهغه څنګه خوښیږی . مونږ ته په المان کی ډیرمهمه ده ، چه تاسی د والدینو په حیث روزونکو باندی اعتماد ولری او هغه سره همکاری وکړی . د دی لپاره هروخت دهغوي نه خپل سوالونه وکړی .


دکوچنیانو ورځنی روزنتون ته تګ ، دکوچنیانو لپاره لمړنی قدم په نوی وطن کی دی . دعمرسترکوچنیان په المان کی ښوونځی ته ځی .

زیارسره زده کړي کول ، ښه تعلیم او یودښوونځی ښه فراغت په المان کی دښه ژوند تیرولو اودیوښه کار دپیدا کولو لپاره شرایط دی . ددی لپاره چه تعلیم ډیرمهم دی ، په المان کی ښوونځی ته تګ مکلفیت دی . داپه دی معنی : زمونږ په ایالت راینلند ـ فالز کی هم قانون دی ، چه هرماشوم باید یو ښوونځی ته ولاړشی (دښوونځی قانون۵۶ماده) .

ددی لپاره چه په ښوونځی کی بریالی وی ، باید ستاسی ماشوم ژرالمانی ژبه زده کړی . ددی لپاره په راینلند ـ فالز کی ښوونځی دژبی خاص کورسونه پیشکش کوی . په دی کورسونو کی تر ۲۰ ساعته په اونۍ کی المانی ژبه تدریس کیږی . دالمانی ژبی درس په څنګ کی ستاسی ماشوم د پیل نه هم د نوروالمانی انجنواوهلکانوهمصنفانو سره ګډ زده کړی کوی . په هغه مضمنونو کی چه دالمانی ژبی مهارتونه حتمی فوراً اړی اوضروری نه وی ، ستاسی ماشوم کولای شی له دی طریقه دخپل همزولی المانی ماشومانو سره اړیکه برقرار کړی او نوی دوستان پیداکړی . دا داسی مضمونونه دی د مثال په طورهنر، موسیقی، سپورت او – که چیری ستاسی ماشوم واردمخه په انګلیسی ژبه خبری کوی – انګلیسی .

يو ښه ښوونځی د والدينو، تدريسی پرسونل اوانجنو اوهلکانو شاګردانو اعتماد او همکاری يا ګډکارته ضرورت لری . تاسی په ښونځی کی زمونږ په ايالت کی  دتعليمی امکاناتو په اړه معلومات هم لاسته راوړی . تاسی کولای شی او بايد ددی لپاره خپلو سوالونوسره هروخت دخپل ماشوم تدريسی پرسونل او دښوونځی مدير يامديريې ته مراجعه وکړی .

تاسی ته په المان کی ښه وخت اوستاسی ماشوم ته ډيره خوښی دکوچنيانو ورځنی روزنتون کی او کاميابی په ښوونځی کی غواړو .



ايرنه الت Irene Alt
ددولت وزيره  په ضم کيدو ، کورنی ، ځوانانو او ښځوچارو کی



ويرا رايس Vera Reiß
ددولت وزيره  په تعليم ، علومو ، اختصاصی تعليم او کلتور چارو کی